مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۲/۱۴

# د فتوی په باره کي مختصر بحث
(اوومه برخه)

**تفسیر او مفسرین:**

د قرآن شریف تفسیر له څلورمي هجري پیړۍ څخه پیل سو او تر ننی ورځي پوري، یوازي اهل سنت والجماعة په لس هاوو تفسیرونه لیکلي او لا اوس به هم لیکل کیږي. که څه هم چي په قرآن شریف کي راغلي دي « هغه داسي ذات دی چي پرتا باندي یي کتاب نازل کړی دی چي په هغه کي داسي آیات دي چي هغه محکمات او د کتاب اصل او اساس دی او بل یي متشابهات دي. هغه کسان چي په زړونو کي کوږ والی لري هغوی په متشابهاتو پسي ګرځي او داسي یي تاءویلوي چي مطلب یي د خلکو ګمراه کول وي؛ په داسي حال کي چي د هغو آیتونو په تاءویل پرته له الله څخه بل څوک نه پوهیږي او څوک چي په علم کي ثابت قدمه دي هغوی وایي چي موږ پر ټول کتاب باندي چي د الله له طرفه نازل سوی دی ایمان راوړی دی او دا خبره یوازي د عقل خاوندان کوي» دریم سورة اووم آیة تر هغه ځایه چي زه معلومات لرم، لومړی تفسیر جامع البیان فی تفسیرالقرآن. د ابوجعفر محمدبن جریر طبري دی، چي په څلورمه هجري قمري پیړۍ کي یي په ۳۰ ټوکه کي لیکلی دی.

بل مفاتیح الغیب دی چي تفسیرالکبیر بلل کیږي، چي فخرالدین رازي په شپږمه هجري پیړۍ کي په ۳۲ ټوکه کي لیکلی دی.

تفسیرالقرآن العظیم ( ابن کثیر): اسماعیل بن عمر بن کثیر، په اتمه هجري پیړۍ کي، په ۹ ټوکه کي لیکلی دی.

الجامع الاحکام القرآن: محمدبن احمد قرطبي په اتمه پیړۍ کي په ۲۰ ټوکه کي لیکلی دی.

تفسیرجلالین: جلال الدین محلي و جلال الدین سیوطي په اتمه هجري پیړۍ کي په شپږ ټوکه کي لیکلی دی.

تفسیر روح البیان: اسماعیل حقي بروسوي په دوولسمه هجري پیړۍ کي په ۱۰ ټوکه کي.

نور نو، له اهل سنت والجماعت څخه کمال الدین حسین واعظ کاشفي د تفسیر حسیني په نوم، سید قطب، ابوالعلاء مودودي او په لس هاوو نورو علماوو تفسیرونه لیکلي دي. البته دلته مو د شیعه علماوو تفسیرونه، چي شمېر یي د سنیانو تر تفسیرونو زیات دی، نه دي ذکر کړي او په ایران کي اوس حاضر د عبدالله جواد آملي پر تفسیر باندي کار روان دی چي تول ۸۰ ټوکه دی او تر اوسه پوري یي ۷۰ ټوکه چاپ سوي دي.

دلته به د بحث د اوږدېدلو د مخنیوي لپاره، د شیعه ګانو یا اهل تشیع پر تفسیرونو باندي بحث نه کوو او یوازي به د سنیانو تفسیرونو ته اشاره وکړو. که د سنیانو تفسیرونه تول پر یوه لاره وي نو بیا خو د دومره زیاتو تفسیرونو لیکلو ته اړتیا نه وه او یو، یا نهایت دوه تفسیرونه کافي وه. او که د دې دومره زیاتو تفسیرونو ترمنځ اختلاف موجود وي، چي حقیقتاً موجود دی، نو بیا خو دا ډېره لویه ستونزه ده.

قرآن شریف په عربي ژبه نازل سوی دی. عوام یوازي په خپلو ژبو پوهیږي او د افغانستان په څېر یوه وروسته پاته هیواد عوام خو په خپله ژبه کي هم چنداني سواد نه لري. او څوک چي یوازي په خپله ژبه کي سواد ولري او یا بیخي سواد ونه لري نو هغوی به په دې څه پوه سي چي دا یا هغه آیة سم ترجمه سوی او تفسیر سوی دی او که غلط ترجمه سوی یا تحریف کړه سوی دی.

مخکي مو ولوستل چي د هجرت د لومړی پیړۍ په دریمه لسیزه کي د پیغمبرص د یارانو، لویو صحابه وو او پیروانو ترمنځ، د قدرت پر سر، اختلافات د جنګونو میدان ته ووتل او په لږه موده کي څه باندي سل زره مسلمانان پکښي قتل سول. په زړه پوری خبره دا ده، لکه مخکي چي مو اشاره ورته وکړه، هري خوا د قرآن شریف په آیتونو استناد کاوه او د یوه بل په مقابل کي جګړه یي د خدای په لار کي جنګ باله او خپلو پیروانو ته یي د وژل کېدلو په صورت کي د جنت وعدي ورکولې. دا اختلافات پراخ سول، او د هغو پر اساس نوي طریقي، مذهبونه او لاري جوړي سوې. د دې ټولو اختلافاتو عاملین هغه لومړني مسلمانان او رهبران دي چي په هر څه یوهېدل او د قدرت او مال لپاره یي ټولو اسلامي اصولو او د خالق احکامو ته شا وګرځوله. که سیاسي او پوځي مشرانو مسلمانان په تورو او وسلو سره بېل کړل؛ علماوو او مذهبي مشرانو په عقایدو، تفسیرونو او تعبیرونو سره بېل کړل. په دې اختلافاتو کي عوام هیڅ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

گناه او مسوولیت نه لري؛ ځکه چي عوام نه د تفسیر کولو پوهه او صلاحیت لري او نه د تفسیرونو ترمنځ په توپیر پوهېدلای سي.
تفسیرونه خو لا پرېږده چي کله کله د قرآن شریف عربي داسی ترجمه سوې وي چي د لوستونکي د گمراهی سبب کېدلای سي. مثلاً زه د سعودي عربستان عربي په پښتو او عربي په انگلیسي قرآن شریف او تفسیر لرم. پښتو ترجمه يي چنداني غلطي نه لري او یا یي په غلطي پوهېدل ښایی زما تر صلاحیت لوړ وي. خو د انگلیسي ترجمي دوه مثالونه به يي درکړم؛ البته زما سره يي مثالونه ډیر دی:
د سورة نور یا ۲۴ سورة په دریم آیة کي نکاح په جنسي اړیکو Sexual Relations ترجمه سوې ده. او وایي چي يو زناکار سړی یوازي له زناکاري او مشرکي ښځي سره جنسي اړیکي لرلای سي او زناکاره ښځه یوازي له زناکار یا مشرک سره جنسي اړیکي لرلای سي.
په هغه مبارک آیة کي راغلي دي چي زناکار سړی یوازي له زناکاري او مشرکي ښځي سره نکاح کولای سي. (اَلّزانِیَ لا ینکِحُ الّا زانیة او مشرکةُ . . . ) په داسي حال کي چي جنسي اړیکي بله خبره ده او کېدلای سي چي هم مشروع او هم غیر مشروع وي خو نکاح یوازي مشروع عقد دی چي د ښځي او نارینه ترمنځ، د دوو شاهدانو په حضور کي، د دواړو په خوښه او رغبت، تړل کیږي.
په ۹۳ سورة کي ۷ اية کي يي ضال چي مطلب يي گمراه دی په سرگردان ترجمه کړی او په اتم آیة کي يي ( و وجدک عایلاً فاغنی --- ته مو غریب او نېستمن پیدا کړي او بیا مو غني کړې) اغنی چي مطلب يي شته من کېدل دي جَعَلَ غنیاً To become rich په مستقل Independent ترجمه کړی دی چي د غریبۍ او نېستمنی په مقابل کي يي استعمال بیخي بېځایه دی او راتللای نه سي. عربي په انگلیسي تفسیر داسي ډیري غلطی لري چي باید سعودي عربستان، د چاپ په وخت کي، توجه ورته کړې وای چي نه يي ده کړې.
اوس به راسو تفاسیرو ته، چي زموږ د بحث موضوع ده. لکه مخکي چي مو وویل مفسرینو هر یوه د قرآن شریف کلمات او آیتونه د خپل علم او پوهي او شخصي درک په اساس تفسیر کړي دي چي طبعاً لوستونکی او اورېدونکی له سوالونو سره مخامخ کوي او سرگردانه کوي. لومړی خو باید دا وواېو چي قرآن شریف د حق متعال کلام دی. دا کلام په عربي ژبه نازل سوی دی او د تفسیرولو او تعبیرولو صلاحیت يي، له پیغمبرص څخه پرته، له هیڅ بنده سره نسته. حق متعال پخپله وایی چي قرآن شریف يي د دې لپاره په عربي ژبه نازل کړ چي تاسي په پوه سی. انّا انزلنا قرآناً عربیاً لعلکم تعقلون. سوره یوسف آیة ۲.
په قرآن شریف کي، ښایی ډېر لږ آیتونه وي چي هغه به تفسیر ته اړتیا ولري نه دا چي د تفسیرونو د جلدونو شمېر يي تر ۳۰ یا ۳۲ ټوکو پوري ورسیږي او د تفسیرونو شمېر هم ۷۰- ۸۰ او یا لازیاتو ته پورته سي او له خلکو څخه په لوی لاس لاره ورکه کړي. که قرآن شریف تفسیر ته اړتیا درلودلای نو حضرت پیغمبرص پخپله تفسیراوه او دا کار يي نورو مسلمانانو ته، چي صلاحیت يي هم ورسره نسته، نه پرېښودی.
څو ورځي مخکي په یو ټیوب کي د ایران د زاهدان یوه سني مشهور مدرس مُلا، مولنا عبدالغني بدري پر یوه درسی صنف باندي پېښ سوم. مولوي صاحب د قرآن شریف ۹۵ سورة یا سورة التین تفسیرکاوه. د تفسیر په وخت کي تر ۲ سوه تنه زیات ځوان شاگردان او د پاخه عمر شاگردان ورته ناست ول او د مولوي صاحب خبري يي یاداشت کولي. مولوي صاحب ( والتین والزیتون. و طور سینین. و هذالبلدالامین. داسي تفسیراوه:
مولوی صاحب وویل « حق متعال په سورة والتین کي په پنځو دلیلو، چي درې يي نقلي دي، یو دلیل يي وحی دی او بل يي عقلي دی دا بیانوي چي انسان چي یوه مقام او عزت ته رسیږي هغه د توحید له برکته دی او که الله په وحدانیت ونه مني نو ځای يي اسفل السافلین دی. وگوری الله دلایل ذکر کړي دي. دا دلایل ډېر ضعیف دي؟؟؟ سهار مي هم دغو دلایلو ته اشاره وکړه. دا چي خدای عز وجل سوگند یادوي هغه سوگند په ونو نه یادوي بلکه سوگند په مقدسو ځایونو یادوي. مطلب يي هغه اماکن دي چي پر هغو باندي وحی راتلي. دا هغه اماکن دي چي له وحی سره يي ارتباط درلود. مخکي مي درته وویل چي د قرآن شریف په څو ځایونو کي دا داستان تکرار سوی دی. که حق تعالی په مکه سوگند یادوي نو مطلب يي دا دی چي هغه د وحی مرکز دی او که په طور سوگند یادوي نو مطلب يي د طور غر نه دی بلکه په هغه غره کي پر موسی علیه السلام باندي وحی نازل سوي دي.
دلته چي په څلورو شیانو سوگند یاد سوی دی؛ تاسي گوری چي دوه ځایونه يي په مشخص ډول د وحی مرکزونه دي. لکه طور سینین، چي مطلب يي کوه طور او هذالبلدالامین چي مطلب يي مکه مکرمه ده. اما هغه دوه نور هم د وحی مرکزونه دي. مطلب يي یوازي ونې نه دي. مفسرین په تېره بیا شیخ حسین علي رحمةالله وایی والتین یعني زما دي د تین یا انځرو په ځای قسم وي. یعني هغه ځای چي هلته انځر پیدا کیږي او هلته رشد او نمو کوي. له دې څخه يي مطلب د شام هیواد دی. شام هغه ځای دی چي هلته پر ابراهیم علیه السلام باندي وحی نازلي سوې. او کله چي زیتون یادوي نو له هغه څخه يي مطلب هغه ځای دی چي زیتون پکښي کیږي او له دې څخه يي مطلب هغه ځای دی چي عیسی السلام پکښي زیږېدلی دی او هلته پر عیسی علیه السلام باندي وحی راغلي دي. په واقعیت کي دا د ابراهیم څخه نقلي دلیل دی او له عیسی څخه نقلي دلیل دی. خدای تعالی په دې سورة کي مطلب وایه او په کوه طور کي مي موسی ته هم دغه مطلب وحی کړ او دا چي په مکه مکرمه يي سوگند کړی دی یعني اې زما پیغمبره! تاته هم دغه وحی کوم او دا خبره څرگنده وم چي لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم. څلورم آیة یعني موږ انسان په زیاترین شکل پیدا کړ....»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا ټولي خبري چي مولوي صاحب وکړې؛ د حق متعال له کلام سره اړه نه لري. حق متعال يوازي د انځر، زيتون، کوه طور او مکې مکرمې ذکر کړی او په دغو څلورو شيانو يې سوګند کړی دی. د شام او ابراهيم عليه السلام، د زيتون او عيسی عليه السلام او باقي نوري خبري مسلمانانو وروسته جوړي کړي دي. حق متعال کولای سوای چي د انځر پر ځای شام او د زيتون پر ځای فلسطين يا بيت المقدِس ذکر کړي. ولي يې خپل مطلب په داسي رمزی کلماتو افاده کړی دی چي په هغو باندي يوازي جرير طبري، ابن کثير، جلالين او نور مفسرين پوهيږي. او اصلي سوال دا دی چي مفسرين د حق متعال په نيت څه پوه سول چي د خدای مطلب له انځر څخه شام او له زيتون څخه بيت المقدِس دی؟ ځکه چي دا صلاحيت خو يوازي له حضرت پيغمبرص سره وو او هغه مبارک په دې باره کي هيڅ نه دي ويلي بلکه نازل سوي آيات يې تر خپلو امتيانو پوري رسولي دي.
مفسرينو، د تفسيرونو په ليکلو سره، نه يوازي اسلام ته هيڅ خدمت نه دی کړی بلکه د هغوی تر منځ يې اختلاف ايجاد کړی او همدغه د عقايدو اختلافات بالآخره د جنګ او جګړو سبب سوي او په سل هاوو زره مسلمانان پکښي قتل سوي دي.
اوس به د عبدالله يوسف علي تفسير، چي مرحوم صباح الدين کشککي په دري ترجمه کړی دی راواخلو. زه يې چنداني په مفهوم نه يم پوه سوی. که مي څوک په پوه کړي ثواب به وګټي. « . . . د دوو لومړنيو نښانو او مخصوصاً د انځر په باره کي د مفسرينو تر منځ ډېر زيات اختلاف موجود دی.( له کشککي صاحب څخه حتماً يو مطلب پاته سوی دی ځکه چي وروسته له انځر سر ه ارتباط ورکيږي) که د هغه حقيقي معنا په نظر کي ونيسو او له هغه څخه د زيتون د مېوی يا د زيتون د وني مفهوم واخلو نو زيتون د انسانانو لپاره، له ډيرو خواوو، ګټور دی. د زيتون غوړي تر نورو غوړيو ښه دي او د نورو غوړيو په څېر تاوانونه نه لري. او که زيتون وخوړل سي نو د ډيرو مرضونو علاج په کيږي. د غرونو زيتون له کوچنيو خستو څخه ډک، بېخونده او اکثراً چينجن وي. ګواکي دلته د انسانانو زحمت او زيار ته اشاره سوې ده چي د هغوی د زيار په نتيجه کی زيتون تربيه کيږي. پخپله انسان هم که تر تربيې لاندي ونيول سی نو بهترين شکل اخلي او که پر خپل سر لوی سي او له سالمي تربيې څخه محروم سي نو ډير پست انسان ورڅخه جوړيږي. ويل کيږي چي عيسی عليه السلام د زيتون ونه ځکه نفرين کړې ده چي يوازي پاڼي يې درلودې او مېوه يې نه کوله. او دا هم و همدې موضوع ته يوه اشاره ده.
د زيتون تمثيلي مفهوم د ا دی چي له هغه څخه د خدای نور تجلی کوي. امکان لري چي دلته زيتون څخه مطلب هغه غر وي چي د بيت المقدِس له دېوالونو څخه بهر واقع دی. او دغه راز کېدلای سي چي اشاره و هغه تعريف او توضيح ته وي چي عيسی عليه السلام د قيامت له ورځي څخه کړی دی»
زما په عقيده دغه راز بدرنګه، بې معنی او عاميانه تعريف پرته له دې چي د حق متعال پر کلام باندي تېری وبولو بل څه نه سو ورته ويلای. ما د يوسف علي عبارات څو ځله ولوستل او تر پايه پوري په ونه پوهېدلم. د مفسر له خپلي ليکني څخه معلوميږي چي دی په خپل تفسير اعتماد نه لري ځکه دوه درې ځله وايی چي امکان لري دا يې مطلب وي او امکان لري هغه يې مطلب وي. کله چي څوک په يقين سره په خپله پوهه اعتماد ونه لري نو د حق متعال پر کلام باندي په دومره نيمګړې پوهه ولي ليکنه وکړي؟
تفسير کابلي هم، چي تبصره يې يو څه لنډه ده، د نورو محققينو له قوله ليکنه کوي. « څرنګه چي انځر او زيتون ډيري زياتي ګټي لري نو د انساني ټولني له حقيقت سره يې مشابهت زيات دی. ځکه نو حق متعال د ( لقد خلقنا الانسان فی احسن تقويم ) په دغو دوو سوګندونو پيل کړی دی. ( دا وروستی آية له څلورم سوګند څخه، چي مکه معظمه ده، وروسته راغلی دی؛ يعني د مفسر د عقيدې په خلاف له لومړيو دوو سوګندونو څخه وروسته نه دی راغلی. جهاني ) ځيني محققين وايي چي دلته يې اشاره دوو غرونو ته کړې ده چي د بيت المقدِس په ګاونډ کي پراته دي. ګواکي قسم پخپله په دې ونو نه دی بلکه په هغه مقدس مقام دی چي دغه وني هلته ډيري زياتي پيدا کيږي او د عيسی عليه السلام د زېږېدني او د رسالت د پيل ځای دی »
په تفسير حسيني کي د دې آية مبارک په تفسير کي راغلي دي: « په انوار کي يې راوړي دي چي د انځر او زيتون په دوو مېوو د سوګند يادولو سبب دا دی چي انځر يوه پاکه مېوه ده او فضله مواد نه لري. نرمه غذا ده، ډېر ژر هضميږي او د ډيرو مرضونو دوا ده او ډيري زياتي ګټي لري. بلغم حلوي، د مسانې ربګ ليري کوي د اينې او سيروز علاج په کيږي او بدن او پښتورګو ته غوړي ورکوي. په خبر کي راغلي دي چي بواسير له منځه وړی او خلکو ته يې ډيري ګټی رسيږي. زيتون مېوه ده او له ډوډۍ سره هم خوړه کيږي او داسي غوړي لري چي ډېر ګټور دي. او وايي چي له انځر او زيتون څخه مطلب هغه دوه غرونه دي چي په مقدسه خاوره کي موقعيت لری چي يو يې طور سينا او بل يې کوه تينا دی. دا دواړه هر يو د انبياوود عبادت ځای وو او يا دوه مسجدونه دي په دمشق او بيت المقدِس کي او په معالم کي يې راوړي دي چي تين د اصحاف کهف مسجد وو او زيتون د ايليا مسجد وو او په تبيان کي يې راوړي دي چي دا جبل جودي او جبل بيت المقدس دي چي حق تعالی په هغوی سوګند ياد کړی دی او سوګند په طور سينا يعني هغه ځای چي حضرت کليم مناجات پکښي وايه او سوګند په دې امان ورکوونکي ښار څخه يې مطلب مکه معظمه ده . . . »
قضاوت به لوستونکو ته پرېږدم. آيا د حق متعال کلام په دغه شکل، دغه ساده ګي او دغه بې پروايی تفسير کېدلای سی؟ دې تفسير ته اصلاً حاجت څه وو؟ سړی له دغو څلورو تفسيرونو څخه د نورو ټولو تفسيرونو اټکل کولای سي. د مفسرينو چي هر څه په زړه کي ورګرځېدلي دي، د خپلي فضل فروشی لپاره يې، ليکلي او کاغذونه يې تور کړي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دي او د خپلو دغو ببځایه لیکنو په وسیله یې د خیر پر ځای شر رسولی او د مسلمانانو ترمنځ یې اختلافات ایجاد کړي دي.
مولوي عبدالغني بدري لا د والتین والزیتون د سورة ځلورم آیة ( لقد خلقناالانسان فی احسن تقویم) د تفسیرولو په وخت کي یوه کیسه هم وکړه چي د و التین د سورة تر نور تفسیر لا په زړه پوري وه او سړی حیران سي چي مُلایانو او مفسرینو خپل شاګردان څه ډول روزلي او غولولي د ي او خلکو ته یې قرآن شریف ځرنګه ترجمه کړی او معرفي کړی دی.
مولوي صاحب وویل چي زه به د دغه مبارک اية په اړه یوه کیسه درته وکړم چي له دلچسپۍ څخه خالي نه ده او هغه دا چي « د عباسي خلفاوو په زمانه کي د خلیفه یو وزیر وو چي ډېره ښکلې مېرمن یې درلوده. یوه شپه یې د هغې حسن او ښکلا ته کتل او فکر یې وکړ چي د ده تر مېرمني به هیڅوک ښکلی نه وي نو یو ځل یې تر خولې ووتله چي که به ته تر سپوږمۍ ښایسته نه یې پر ما به طلاقه یې. وروسته متوجه سو چي دا یې څه ډول خبره وکړه؟ تر سپوږمۍ خو هیڅوک ښایسته کېدلای نه سي. پر ما خو خپله ښځه طلاقه سوه. وزیر سهار خلیفه ته ورغی او دا کیسه یې ورته تېره کړه چي زما څخه داسي سهو سوې ده اوس به څه کوم؟ خلیفه خپل علماء او ملایان راوغوښتل او د دې مسلې په باره کي یې پوښتنه ورڅخه وکړه. ټولو وویل چي ښځه طلاقه ده او هیڅ چاره یې نه کیږي ځکه چي تر سپوږمۍ خو ښکلی موجود له سره نسته. خو په دامنځ کي د امام ابوحنیفه یو شاګرد هم ناست وو او هیڅ یې نه ویل. خلیفه ږغ ورباندي وکړ چي ستا څه رایه ده؟ ولي خاموش یې؟ د ابوحنیفه شاګرد وویل چي که د « لقد خلقناالانسان فی احسن تقویم » آیة باندي ایمان لرو نو حق متعال خو ویلي دي چي ما انسان تر ټولو مخلوقاتو ښکلی پیدا کړی دی. سپوږمۍ هم یو مخلوق دی نو کېدای سي چي د وزیر صاحب مېرمن تر سپوږمۍ ښکلې وبولو. مسله حل سوه. وزیر خوشاله سو»
لومړی خو داسي احمق نه پیدا کیږي چي خپلي مېرمني ته ووایی چي که به ته تر سپوږمۍ ښکلې نه یې پر ما طلاقه یې. د سپوږمۍ ښکلا د انسان له ښکلا سره ځرنګه مقایسه کېدلای سي؟ ځکه چي د یوې ښکلي مېرمني ښکلا خو د هغې په سترګو، خوله، پزه ، وېښتانو، پوست، قد و قامت، لاسونو پښو کي ده او سپوږمۍ خو له دې شیانو څخه یو هم نه لري نو سړی به یې ځرنګه ورسره مقایسه کوي؟ او که یې چیري فرض کړو چي وزیر دا حماقت کړی دی او سپوږمۍ په ریشتیا هم تر ټولو انسانانو ښکلې ده او په دې حساب پر وزیر باندي مېرمن طلاقه سوه نو دا خو رِجعي طلاق دی او د مېرمني او مېړه په توافق سمدستی فسخ کیږي او د لویو ملایانو او مفتیانو رابللو ته ضرورت نه پیدا کیږي.
او وروستۍ خبره دا ده چي مولوي صاحب « احسن تقویم» په ښکلي شکل یا جوړښت ترجمه کړی دی او په دغه آیة مبارک کي احسن د ښکلي نه بلکه د بهترین معنی ورکوي. لکه د یوه چا د ښه کار د ستایلو په وخت کي چي خلک یا یو څوک پر هغه باندي ږغ کوي چي احسنت! یعني بهترین کار دي وکړ او یا بهترینه خبره دي وکړه. نه دا چي ډېر ښکلی کار دي وکړ. د سورة ۲۳ المومنون ۱۴ آیة « فتبارک الله احسن الخالقین » ستر دی هغه الله چي بهترین خالق دی. د دې مطلب ښکلی خالق راتللای نه سي. ځکه چي له دې مبارک آیة څخه مخکي نور آیتونه د مور په نس کي د انسان د جوړېدلو او ودی کولو په باره کي دي او په وروسته کي الله ته ، د همدغه بهترین خلقت په خاطر، بهترین خالق ویل سوی دی. یعنی مولوي صاحب نه یوازي د قرآن شریف د آیة غلط تفسیر کړی دی بلکه خپل شاګردان یې په لوی لاس ګمراه کړي دي.
تفاسیر له سره ترپایه له دغه راز غلطیو څخه ډک دي او همدغه غلطۍ دي چي د مسلمانانو ترمنځ د اختلافاتو سبب سوي دي. ځکه چي مفسرینو هر یوه په خپل وار د الله تعالی کلام د خپلو اټکلونو سره تعبیر او تفسیر کړی او هیڅ مفسر په هیڅ برخه کي هیڅ ډول استناد نه لري.
حقیقت دا دی چي قرآن شریف اصلاً تفسیر ته ضرورت نه لري. که څوک اسلام او مسلمانانو ته خدمت کوي نو قرآن شریف دي سم او صحیح ترجمه کړي. قرآن شریف پخپله تر ټولو ښه رهنما دی. حضرت رسول ص د حجة الوداع په خطبه کي وویل چي ستاسي د رهنمایی لپاره مي قرآن شریف درته پرېښود. که قرآن شریف، په غلطو ترجمو او له ځانه په جوړو کړو تفسیرونو، تحریف سوی نه وای نو حقیقتاً به د ټومسلمانانو لپاره تر ټولو بهترین رهنما وای او هیڅ ډول عقیدوي اختلافات به منځته نه راتللای.

پاته لري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ